



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له سود (ربا) څخه ځان،
# کورنۍ، ټولنه او هیواد وژغورئ!

عبدالرشید «صمد نجاب»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرليکونه

سریزه ........................................................................ ۱
له سود څخه ځان، کورنۍ، ټولنه او هیواد وژغورئ ................................ ۲
د شریعت لارښوونه د صرافۍ بازارونو صرافانو لپاره ............................... ۳
د استاد فضل الله ممتاز - د اسلامي فقې کارپوه ځواب .............................. ۳
د سید جمال الدین افغان وینا د افغانستان او نړۍ خلکو په اړه ...................... ۶
سرچینې........................................................................ ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

سلامونه او نیکې هیلې ټولو درنو سوداګرو (تجارانو)، پانګې لرونکو، صرافانو (د پیسو راکړې ورکړې والا)، بانک لرونکو او ټولو هغو کسانو ته چې دا لیکنه لولي (وایي):

**هیله کوم!** تر پایه دا لیکنه وګورئ او ویې لولئ، په خپلو فیسبوک پاڼو، آي ډي ګانو (حسابونو) کې، په نورو ټولنیزو رسنیو حسابونو او په هره لاره چې دا مالومات شریکولای شئ؛ شریک او خپاره یې کړئ او ثواب یې له الله (جل جلا له) وغواړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له سود (ربا) څخه ځان، کورنۍ، ټولنه او هیواد وژغورئ!

پدې وروستیو کې یو شمیر زمونږ ورونه چې له صرافانو سره کار کوي، صرافیو سره کاروبار یې اړوند دی، یا پخپله صرافان دي په افغانستان کې د اقتصادي ستونزو او ناورین له را مینځته کېدو سره سم د سود (ربا) معاملې (راکړې ورکړې) یې پیل کړي دي. دا زمونږ ورونه داسې فکر کوي چې حلال او مباح کار کوي. د بیلګې په توګه پخپلو معاملو (راکړو ورکړو) کې خلکو ته (۱۰۰۰۰) لس زره ډالر نقد ورکوي او په بدل کې یې (۱۱۰۰۰) یوولس زره ډالر یا (۱۲۰۰۰) دوولس زره ډالر د وخت په تېرېدو سره ترې اخلي، یانې په عینِ پیسه کې یا یوه پیسه کې ګټه (فایده) اخلي چې دا کار یې سود (ربا) شمېرل کیږي. د شریعت له مخې ګټه (فایده) اخیستل په عینِ پیسه یا یوې پیسه، یوې سکې او یو څیز (شي) کې سود (ربا) ګڼل کیږي. ګټه (فایده) اخیستل په مختلفو (بېلابېلو) پیسو، سکو او شیانو کې حلال او مباح کار دی. پخوا هم ځینو صرافانو نوي د افغانیو لوټونه یا کاغذونه به یې د افغانیو د زړو لوټونو یا کاغذونو سره په ګټې (فایدې) سره تبدیلول چې دا بیا هم په یوه پیسه کې ګټه (فایده) اخیستل دي؛ دا هم سود (ربا) کې راځي. پداسې راکړو ورکړو (معاملو) کې پیسې ورکوونکی او اخیستوونکی دواړه په سود (ربا) معامله کې واقع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا موضوع د اصلاح آنلاین ویب پاڼه کې په ډېره ښه توګه روښانه شوې ده:

## د شریعت لارښوونه د صرافۍ بازارونو صرافانو لپاره:

د اصلاح آنلاین نټ ویب پاڼې یو لوستونکي په کابل کې داسې پوښتنه[1] کړې ده: پوښتنه مې درلوده د صرافۍ مارکیټ د راکړې ورکړې (معاملې) په اړه یو ډالر اخیستل په نقدي توګه ۶۶.۷۰ ده پور (په قرضي توګه) د صرافۍ په مارکیټ کې ۶۶.۲۰ ده یوې اوونۍ مخکې سره ۵۰ افغانۍ توپیر (فرق) لري؛ آیا د اسلام پاک دین له پلوه سود (ربا) ده که نه مالومات ورکړئ مننه؟

## استاد فضل الله ممتاز - د اسلامي فقې کارپوه ځواب

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله، أما بعد،، په مسلمان فرض ده چې د معاملاتو، پېر او پلور (اخیستلو او خرڅلاو) په احکامو پوه شي او زده یې کړي چې ترڅو په حرامو کې واقع نشي، ځکه د سوداګرۍ (تجارت) نړۍ، راکړې ورکړې (معاملې) او بزنس ډیرې لوړې او ژورې لري چې ډیری خلک پرې نه پوهیږي لدې سره سره چې لمونځ کوي، زکات ورکوي، روژه نیسي، حج ته ځي خو د ننه په معاملاتو کې، پېر او پلور کې په حرام خوړلو کې واقع کیږي، لدې پلوه د سوداګریزو (تجارتي) معاملاتو په آدابو پوهېدل د ځانګړي

[1] دا پوښتنه څو کاله وړاندې په اصلاح آنلاین ویب پاڼه کې شوې ده؛ د ډالر بیې ته یې حېرانه کیږئ مه! خو د پوښتنې ځواب وګورئ او د سود (ربا) په اړه مطلب ترې واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښت ورې دي؛ آن دا چې د فقې کارپوهان یا مخصصین یوه خبره یا وېینه لري چې "دین یوه راکړه ورکړه (معامله) ده"، د مسلمان رېښتینولي او امانتداري، د ایمان ځواک او کمزوري یې پدې ډګر (مېدان) کې دېر د آزماېښت (آزموېنې) لاندې راځي او څرګندیږي..

اوس به مو د درانه ملګري پوښتنې ځواب ته راشو.. دا معامله چې تاسو یاده کړه عیناً لکه سود ده چې اسلامي فقه ورته ربا النسئیة وایي، یانې د شیانو اخیستل، خرڅول، تبادله او معامله په قرضي توګه چې پکې سود واقع کیږي..ځکه همدا نقدې پیسې په اخیستلو، خرڅولو او تبادله کې د سرو زرو (طلا) او سپینو زرو (نقرې) حکم لري..

که چیرې دا معامله نقدي وای او پور (قرضي) نه وای بیا جائزه وه ځکه د ډالرو بدلول په افغانیو او ګټه (فایده) اخیستل پکې مباح او حلال دی ځکه دوه مختلفې (جلا) پیسې او سکې دي، باید معامله نقدي وي، لاس په لاس ترسره شي، په یو وخت کې او یو حسي او یا حکمي مجلس کې چې د حدیث شریف وسائلو په واسطه ترسره کیږي.. **رسول الله صلی الله علیه وسلم** په صحیح حدیث شریف کې چې مسلم روایت کړی دی فرمایلي دي: " : الذهب بالذهب، والفضة بالفضة، مثلاً بمثل، سواء بسواء، یدًا بید، فإذا اختلفت هذه الأجناس؛ فبیعوا کیف شئتم، إذا کان یدًا بید .." د سرو زرو (طلا) او سپینو زرو (نقرې) اخیستل او خرڅول او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیانو چې پدې دوو قیاس (اندازه) کیږي باید مساوي (برابر) وي او لاس په لاس هم ترسره شي خو که چېرې دوه بېلې (جلا) سکې او شیان وي کولای شئ ګټه (فایده) پکې لاسته راوړئ پدې شرط چې لاس په لاس ترسره شي یانې معامله پور یا قرضي نه وي... نقدې پیسې د سرو زرو (طلا) او سپینو زرو (نقرې) حکم لرونکي دي.. او ښاغلي صرافان په صرافیو کې دغه احکام باید مراعت کړي:

۱ – د افغانیو په افغانیو یا ډالرو په ډالرو تبادله او ګټه (فایده) اخیستل پکې په قطعي توګه حرام او په ټولیزه توګه ناجائز دی او سود (ربا) شمېرل کیږي.

۲– که چېرې دوه جلا (بېلې) سکې وي لکه امارتي درهم بدلَول په افغانیو ګټه (فایده) اخیستل پکې جائز او مشروع دی په شرط د دې چې معامله نقدي او لاس په لاس ترسره شي.

۳– ګټه (فایده) اخیستل د سوداګرو (تجارانو) پیسو په لیږد او انتقال کې له یو ښار څخه بل ښار ته او یا له یو هیواد څخه بل هیواد ته جواز لري د بېلګې په توګه یو لک افغانۍ یوه صرافي په کابل کې اخلي او ځانګه یې په هرات کې نهه نوي زره افغانۍ هغه کس ته چې د خپلو پیسو د لیږد او انتقال غوښتنه یې کړې ده ورته ورکوي دا جائز دی ځکه هغه زر افغانۍ د پیسو د لیږد یا انتقال اجوره ده نه د صرافۍ ګټه... خو که چېرې د صرافۍ په نیت یې واخلي پدې حالت کې دا زر افغانۍ هم په سود (ربا) کې شمېرل کیږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د قرآنکریم مبارک آیاتونه د سود (ربا) د حرام والي په اړه شتون لري چې خپله کولای شئ ویې وایئ او یا هم د اسلامي علماوو او پوهانو څخه یې پوښتنه وکړئ.**

**د سید جمال الدین افغان وینا د افغانستان او نړۍ خلکو په اړه**

" له **سید جمال الدین افغان** د افغانستان نوموتیلي عالِم (پوه) څخه پوښتنه وشوه: د افغانستان او د نړۍ هیوادونو (مُلکونو) ترمینځ توپیر (فرق) په څه شي کې دی؟ هغه په ځواب کې وویل: په افغانستان کې مسلمانان شته خو مسلماني نشته؛ په نورو هیوادونو (مُلکونو) کې مسلماني شته خو مسلمانان نشته.

**مانا او مطلب:** مونږ د افغانستان خلک داسې کړنې (اعمال) ترسره کوو چې د نامسلمانو یا غیرمسلمانانو په څېر دي خو مسلمانان یو او یا هم تش په نوم مسلمانان یو. د نورو هیوادونو خلک داسې کړنې (اعمال) ترسره کوي چې د مسلمانانو په څېر دي خو مسلمانان ندي."

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرچينې:**

https://www.eslahonline.net/2017/01/10/%D8%B1%D9%87%D9%86%D9%85%D8%A7%D8%A6%D9%8A-%D8%B4%D8%B1%D8%B9%DB%8C-%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%8A-%D8%B5%D8%B1%D8%A7%D9%81%D8%A7%D9%86-%D9%85%D8%A7%D8%B1%D9%83%D9%8A%D8%AA%D9%87%D8%A7%D9%8A-%D8%B5%D8%B1/

https://sarafiseddiqi.com/%D8%B1%D9%87%D9%86%D9%85%D8%A7%DB%8C-%D8%B4%D8%B1%D8%B9%DB%8C-%D8%A8%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D8%B5%D8%B1%D8%A7%D9%81%D8%A7%D9%86/

**سید جمال الدین افغان وینا :** اوریدلي له مشرانو څخه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**